آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۲۹

# نا سمه پته

ستا به یادیږي که نه

پر دې زاړه او ګرد وهلي مینه ځای کې ناست وو

تا په خندا، خندا کې ویلې چې زه ګران یم درته

هغه خندا، هغه ویل دې څه شول؟

چې نن په ځنګ را نه تیریږي

او را ګوري هم نه

داسې تیریږي رانه

چې ګواکې نه مې ویني

او که دې و پوښتمه

په بیا ځلي به را ته و وایي:

آدرس ناسم دی

۲۰۱۴/۰۶/۱۴
هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ